# دلومړۍ ټولګی دپاره دپیل لومړی پښتو کتاب





لیکونکی : ننګیالی بڅرکی

دچاپ کال : ۱۳۱۸

# ا

انار ـ انګور ـ المارۍ ـ انګار ـ الوچه

انار : دکندهار انارغټ او خواږه دی.

انګور:انګورخواږه دي،خوډېر ډولونه لري.

المارۍ : زموږ المارۍ توره ده .

الوچه : الوچه توروه ده ، شین رنګ لري.

انګار : دنګاراورتوددی.اومه خواږه پرپخیږي.







# آ

آس ـ آسمان ـ آرزو ـ آزاد ـ آغاجان ـ آباد

آس : دا آس دی داحمد پلار آس لري.

آسمان: په شين آسمان کي ستوري ځليږي.

آرزو:زماآرزوداده چي ښوونکی سم.

آزاد:زموږهيوادافغانستان يوآزادهيواد دی،

آغاجان : موږ پلار ته آغان وايو.

آباد : موږبه خپل هيواد خپله آباداوجوړکړو .



# ب

بازو ـ بابا ـ باز ـ بانجڼ ـ بادرنګ

بازو : بازو په سپورټ قوي کيږي.زه سپورټ کوم.

بابا : بابا پرمځکه کارکوي .کارګټه کوي.

باز : بازدچوغکويا مرغيوښکارکوي.

بانجڼ : بانجڼ ګټورخواړه دي .موربانجڼ پاخه کړه.

بادرنګ:بادرنګ په شلومبوکي ښه خوند کوي.









# پ

پیشي ـ پمپ ـ پوه ـ پلار ـ پښتو ـ پلو

پیشي : پیشي دکورني حیواناتوڅخه ده.

پمپ:بایسکل ته په پمپ هوآورکول کیږي.

پوه : زمریالی پوه دی،ځکه کوښښ کوي.

پلار:ښوونکی دپلارپه څیرمعنوي پلاردی

پښتو: پښتودافغانستان رسمی ژبه ده.موږپښتووایو.

پلو:پلوښه خواړه دي،پلودوریجوڅخه جوړیږي.

پور: پرخپل وخت دپورورکول ښکاردی.



# ت

تخته ـ تور ـ توريالی ـ تله ـ توپ

تخته:پرتوره تخته په ټولګۍ کي کارکوو.

تور:سکاره توررنګ لري،په ژمي کي دتودوخي دپاره کارځيني اخلي.

توريالی:توريالی پاک ګرځي.خپل کالی نه خيرن کوي.

توپ:روښان دفوټبال توپ لري.زه فوټبال کوم.

تله:تله دانصاف نخښه ده.دکاندارتله لري.








# ټ

ټوټه ـ ټوپۍ ـ ټاټوبی ـ ټولواک ـ ټوپ

ټوټه :په سلا طه کي کاهوټوټه،ټوټه کيږي.

ټولواک : احمدشاه بابا یوملی ټول واک ؤ.

ټاټوبی:زموږ هیواد لکه زموږ کورزموږ ټاټوبی دی.

ټوپۍ :ځیني خلک ټوپۍ ته خولۍ هم وائي.

ټوپ:توريالي دويالۍ ښخه ټوپ ووهی.غوځارنه سؤ.



«لوی ټولواک احمد شاه باباداوسني افغانستان خښته ایښوونکی»

# ث

ثروت ـ ثریا ـ ثواب ـ ثمر ـ ثور

ثروت:پیسې هم ثروت دی،علم هم ثروت دی.

ثریا: زما داعمه دلورنوم ثریادی.

ثواب:مرسته کول ښه کاردی اوثواب لري.

ثمر:زموږباغ ثمرداره وني لري.

ثور:دثورمیاشت توده وي،توت هم پخیږي.



# ج

جارو ـ جاهل ـ جانان ـ جواري ـ جامعه

جارو:مځکه په جارو پاکه کيږي.

جاهل:ناپوهه اونالوستی سړی جاهل وي.

جانان : زماورورزمريالي ته دنازه جانان وائي.

جواري: پاخه جواري ډيربښه خوند لري.

جامعه:مورجامعې ته ټولنه هم وايو،جامعه په زده کړه سره پرمختګ کوی.



# ځ

ځاله ـ ځانګو ـ ځم ـ ځانګړی ـ ځلانده

ځاله : ټول مرغان په پسرلي کي ځاله جوړوي.

ځانګو:زماکوچنی ورورپه ځانګوکښي ښه ارامیږي.

ځم:زه هرکال دپسرلي میلې ته ځم.پسرلی د کال لومړی موسم دی.

ځانګړی:هرګل ځانګړی بوی اورنګ لري.

ځلانده:ستوری ځلانده روښنا ئي لري.چي په شپه کي ځلیږي.



ځاله



دکوچنیانوځانګو

# چ

## چای ـ چوغکه ـ چابک ـ چیرته ـ چورت ـ چاغ

چای:زماانا شینې چای چیښي،موږتوري چای چیښو.

چوغکه:چوغکي ته مرغۍ هم وائي.مرغۍ ښکلې وي.

چابک : چابک کورته ولاړسه،کنه!تاریکه کیږي.

چیري: زما کتاب چیري دی؟.زه کتاب لولم.

چورت:اوس چورت مه وهه،وخت درڅخه تیریږي .

چاغ : ډیره چاغي دانسان دپاره ښه نه وي.



کنري چوغکه



کورنۍ چوغکه



چا بک



توري چای



شنې چای

# څ

**څلور ـ څرمن ـ څپلۍ ـ څاه ـ څلى ـ څانګه**

**څلور: زموږ خونه څلور کونجه لرى.**

**څرمن:دغوائي څرمن پنډه دى.بوټونه ترې جوړيږي.**

**څپلۍ : په دوبي کښي څپلۍ په پښوکول ګټه لري.**

**څاه: زموږ څاه يخي او خوږې اوبه لري.**

**څلى : زلمي دميوند داستقلال څلى ليدلى دى.**

**څانګه : مرغۍ دګل پرڅانګه ناسته ده،آوازونه کوي.**









# ح

**حلوا ـ حج ـ حق ـ حل ـ حمید حاضر**

**حلوا ـ دملا صاحب حلوا ډیره خوښه ده.**

**حاجي : زما نیکه تیرکال حج ته تللی ؤ.**

**حل :دجنګ دحل لاره سوله ده،جنګ بدکاردی.**

**حمید : حمید خپل غاښونه سهاراو ماښام مینځي.**

**حاضر:بریالی ښوونځی ته پرخپل وخت حاضروي.**









حمام

حمل میاشت میږي اووري



دحمل دمیا شتی شګوفه

# خ

**خاده ـ خر ـ خامخا – خوښ ـ خور ـ خیاط**

**خاده : زموږدکورمخ ته غټه دبرښنا خاده ده.**

**خر : خرباروړي،کاکا مي یوغټ خر لري.**

**خامخا : دسبا دپاره کورنۍ کار خامخا کوم.**

**خوښ : زما دښوونځۍ کورنی کار خوښ دی.**

**خور:زماخوردمورسره دکورپه کارکې مرسته کوي.**

**خیاط:خیاط کالي ګنډي،زه هراخترپه خیاط کالي ګنډم.**







خیاط

# د

**دود ـ درملتون ـ دارو ـ دروازه ـ دادمحمد.**

**دود: لانده لرګي ډیردودکوي .اوژرنه لګیږي.**

**درملتون : زمادارو په درملتون کي پیدا کیږي.**

**دارو: ناروغه بایدبشپړه لازم داروو خوري.**

**دروازه : ددرملتون دروازه خلاصه ده.**

**دادمحمد : دادمحمد په درملتون کي کارکوي.**





دارو

دود









درملتون

# ډ

## ډوډۍ ـ ډاډ ـ ډار ـ ډنډ ـ ډنګر ـ ډؤل

**ډوډۍ: زمامورپرتبخي ډوډۍ پخوي،ښه خوند کوي.**

**ډاډ:زه ډاډ لرم که څوک درسونه ولولي بريالی کيږي.**

**ډار: دليوني سپي څخه ډارپه کاردي.**

**ډنډ: په ډنډاو ولاړواوبوکي غوماشي ډيري وي.**

**ډنګر: ټور ګل دملأ ريا تبوډنګرکړی دی.**

**ډول:داتڼ ډول خوندکوي،په ښاديوکي ډول وهل کيږي.**










# ذ

# ذات ـ ذوق – ذکي – اذان ـ ذاکر- ذاکره

**ذات:پښتانه ټوله سره ورونه او يو ذات دي.**

**ذوق: زمريالی دپاکوالي ډيرښه ذوق لري.**

**ذکي : ذکي هلکان ډيرژردرس زده کولای سي.**

**ذاکره:ذاکره هم يوه هوښياره نجلۍ ده .**

**ذاکر: ذاکرهم يو هوښياراوذکي هلک دی.**

**اذان : چي ملاصاحب اذان وکی،نوموږلمانځه ته ځو.**



ذاکره او ذاکر دتولکي ذوق لري

# ر

## راوړه ـ راز ـ رباب ـ راډيو ـ رفيق ـ راتګ .

راوړه:باباوړه راوړه،په اوړوباندي مورډوډۍ پخوي

رباب : رفيق ډيرښه رباب وهي،زما رباب خوښ دی.

راز:زه پټ راز نه لرم،زه هر څه ښکاره وايم.

راډيو: راډيو دپوهي او معلوماتو دپاره ده.

رفيق: رفيق ددوست په شان وي،پرمارفق ګران دی.

راتګ:مورټوله کوردپلارراتګ ته انتظارباسو.



رباب



راډيو

# ړ

**اوړه - ړوند - نړۍ - سوړ - ړنګ - ړومبی .**

**اوړه: دزمري ډيزلي ژرندي ډير ښه اوړه کوي.**

**ړوند:ړوند دډيري مهربانۍ وړدی،ځکه احتياج دی.**

**نړۍ: زموږنړۍ سولي ته ضرورت لري.پرمختګ په سوله کي دی.**

**سوړ:دميرويس سوړکارنه خوښيږي،ژر،ژرکارکوي.**

**ړنګ : دهرڅه سره که زورووهل سي،ړنګ يږي.**

**ړومبی:ړومبی په ځينووختوکي دلومړي په معناوي.**








# ز

**زموږ ـ زورور ـ زمری ـ زوړ ـ زیری ـ زخم .**

**زموږ: زموږ کورپه کندهارکي دی،موږ افغانان یو.**

**زورور: زورورباید دکمزوري مرسته وکړي.**

**زمری: زمری دځنګله پاچاه دی،غښتلی حیوان دی.**

**زوړ: داتبراوس زوړدی،احتیاط ورسره کوه.**

**زیری: علي پرزمري دمور دراتګ زیری وکی.**

**زخم : هرځای چي دبدن زخم سي،پاک ئې وساتی.**









# ژ

**ژبه - ژاولي - ژر،ژر - ژوبل - ژمی - ژړ.**

**ژبه:ژبه هم کلاده هم بلاده،په ژبه ښې خبري وکی.**

**ژاولي : ليمه په ټولګی کي ژاولي نه ژوئي.**

**ژوبل: دسباوون لاس په چاړې سره ژوبل سؤ.**

**ژمی:ژمی دکال سوړموسم دی،ځان ګرم وساتیٔ.**

**ژر،ژر:دژمي ورځي ژر،ژرتيريږي،ګټه ځيني واخلی.**








# ږ

**ږمنځ – ږغ (غږ)– ږیره ـ موږک ـ ږوب ـ وږی.**

**ږمنځ:دنازووریښتان پاک اوټول وخت ږمنځ وي.**

**ږغ (غږ): په باغ کي دبلبل غږخوندکوي.**

**ږیره : زموږ دمسجد دملا صاحب ږیره توره ده.**

**موږک: موږک ډیرچیچان کوي.اوخرابی هم کوي.**

**ږوب: سږکال په ږوب کي ډیره ګرمي وه.**

**وږی: زه چي وږی نه سم ډوډۍ نه خورم.**









# س

**سابه ـ سباوون ـ ساړه ـ سور ـ سۀی ـ سیوری.**

**سابه : سابه هم پاخه خوړل کیږي او هم اومه.**

**سباوون:سباوون کوښښ  ونه کړی نوناکامه سۀ.**

**ساړه: سږکال ژمی ډیرسوړۀ،زما ساړه کیده.**

**سۀی:سۀی ډیرتیزاوچابک حیوان دی،نیول ئې ګران دي.**

**سیوری: سیوری په دوبي کي خوند کوي.دغه ونه یخ سیوری لري.**






# ش

**شابا س ـ شیدې ـ شرمښ ـ شیرین ـ شکور ـ شاګرد.**

**شاباس : ښوونکي ماته شاباس پرکتابچه رانویشته کی.**

**شیدې: غواډیري شیدې کوي،شیدې ډیرویټامینونه لري.**

**شرمښ:شرمښ ظالم حیوان دی،خودسپي څخه بیریږي.**

**شیرین : دکندزولایت خټکي ډیرشیرین دي،زماخوښ دي.**

**شکور: شکوردشکرې وروردی.دواړه یوځای ښوونځی ته ځي.**

**شاګرد:ښه شاګرد کورنۍ کارپرخپل وخت سرته رسوي.**






# ښ

**ښکر ـ ښوروا ـ ښاغلی ـ ښامار ـ ښکلا ـ ښاد**

**ښکر: غويی په ښکرجنګ کوي،ښکرکلک دی.**

**ښوروا: دپرويني مور خوږه ښوراپخه کړې وه.**

**ښاغلی:دښووونکي دنوم سره ښاغلي بايدنويشته سي.**

**ښامار: په غټوځنګلوکي ښاماران پيداکيږي.**

**ښکلا:دبڼ ګلان رنګارنګ ښکلا لري.**

**ښاد : بريالی دي ښادسي دکورپه کاروکی ونډه اخلي.**










# ص

**صاحب ـ صابون ـ صبر ـ صحیح ـ صدیق ـ صحرا.**

**صاحب:سرښووونکي صاحب ښه ویناوکړه.**

**صبر: یونس دصبراو حوصلې څښتن دی.**

**صابون:یونس په اونۍ کې دوه ځله په صابون ځان پریولي.**

**صدیق:صدیق اویونس دواړه مهربانه ورونه دي.**

**صحرا:دصحراهوآ تر ښار صافه اوتازه ده.**







# ض

**ضايع ـ ضامن ـ ضرورت ـ ضيأوالدين ـ ضابط ـ ضد.**

**ضايع:وخت لکه سره زر بايد ضايع نه سي.**

**ضامن:توريالى د بريالي دنيکواخلاقوضامن سؤ.**

**ضرورت:ښوونه اوروزنه دهرچاه دپاره ضرورت ده.**

**ضيأوالدين: ضياوألدين نيک خويونه لري.**

**ضابط:ضابط صاحب پرخپلوسربازانودنظم غږ کوي.**

**ضد: پربدوکړنو بايد ضد او ټينګار ونه سي.**








# ط

**طبابت ـ طوطي ـ طالب ـ طلوع ـ طاهرـ طاقت.**

**طبابت: هغه چاه چي لوړي زده کړي کړی وي،دهغه طبابت به هم علمي او ښه وي.**

**طوطي:طوطي یوالوتونکی دی،خبري هم زده کوي.**

**طالب:هغه څوک چي علم زده کوي هغه طالب دی.**

**طلوع:دسهاردلمرپرطلوع پاڅیدل ډیره ګټه کوي.**

**طاهر:طاهرهم دطبابت دپاره هڅه کوي.**

**طاقت: دخلکویووالی یو لوی طاقت جوړوي.**








# ظ

**ظالم ـ ظفر ـ ظهور ـ ظريف ـ ظرف ـ ظرافت.**

**ظالم : ظالم سړی دهيچاه ښه نه ايسيږي.**

**ظفر:ظفريولايق هلک دی،پرښوونکي هم ګران دی.**

**ظهور:ظهوريعني څرګند،دظفردورورنوم ظهوردی.**

**ظريف:ظريف هم دظفرپه څيرمهربانه دی.**

**ظرف:ظرف ته په پښتوکې لوښی هم وائي.**

**ظرافت:ظرافت دښکلاپه معنادی.ګل ظرافت لري.**









# ع

**عرفان ـ عرابه ـ علم ـ علامه ـ عدل ـ علت .**

**عرفان:عرفان يعني پيژندنه،زماوروړهم عرفان دی.**

**عرابه:دموټرعرابه بايدنوې وي. که نه!خطرلري.**

**علم:علم دپوهي په معنا دی،پرنراوښځي فرض دی.**

**علامه:عبدالشکوررشاديوپښتون علامه افغان دی.**

**عدل:عدل اوانصاف په هرکارکي ښه وي.**

**علت:دبريالي دناکامه کيدوعلت درس نه ويل وه.**






# غ

**غوا ـ غزل ـ غوبل ـ غالمغال ـ غاب ـ غنم .**

**غوا: ژړه غوا یو چارپاک شیدې پر وخت کوي.**

**غزل:دلالاپه واده کښې توریالي ښه غزل وویل.**

**غوبل: په غوبل غنم دپړوړو څخه جلا کیږي.**

**غاب:احمدیوبشپېره غاب غورمه وخوړه،بیا موړسوځ.**

**غنم:بریالی غنم سوی دی،اووم ټولګی ته ولاړی.**











# ف

**فرمان ـ فرق ـ فامیل ـ فارسي ـ فاروق ـ فارغ.**

**فرمان:ماته دمور فرمان ډیرارزښت لري.**

**فرق : پلاربايد دلوراوزوی ترمنځ فرق ونه کړي.**

**فامیل : دمشرانو فرمان منل دفامیل عزت دی.**

**فارسي:په افغانستان کي فارسي هم رسمي ژبه ده.**

**فاروق : فاروق زما دورورتوریالي انډیوال دی.**

**فارغ:زماورورسږکال ددولسم ټولګی څخه فارغ سؤ.**







# ق

**قابل ـ قول ـ قبول ـ قاب ـ قافله ـ قانون.**

**قابل: ګلداد نامتواو قابل اشپز دی.**

**قول:پرقول دریدل ډیره ښه ځانګړنه ده.**

**قبول : دقابل سړي قول دقبول وړدی.**

**قاب : دګلداد دلاسه قاب ولویدی اومات سو.**

**قافله:دکوچیانوقافله په ژمي کي ګرموځایوته ځي.**

**قانون : دښوونځی داداريې قانون باید ومنل سي.**







# ک

**کابل ـ کور ـ کېږدۍ ـ کوږ ـ کمال ـ کښت .**

**کابل:دافغانستان پایتخت کابل دی،کابل سوړولایت دی**

**کور:داحمدکوردښوونځی څخه لیري دی.**

**کېږدۍ:کوچیان کورنه لري،په کېږدۍ کي ژوند کوي.**

**کوږ:متل دی چي وائي.کوږبارترمنزله نه رسیږي.**

**کمال: کمال کوږبارټرلی ؤ،پرنیمه لارځیني ولویدی.**

**کښت:سږکال بارانونه ډیرشوي دي،کښت هم سم دی.**









# ګ

ګلاب ـ ګورم ـ ګرځم ـ ګردیز ـ ګل آغا ـ ګرځیدل.

ګلاب :ټول ګلان ښه دي،خودګلاب ګل ښه رنګ لري.

ګورم : زه دباغچې رنګارنګ ګلان ګورم.

ګرځم: زه هره ورځ په پښوګرځم.ګرځیدل ګټه لري.

ګردیز: دپکتیا مرکزدګردیز ښکلی ښاردی.

ګل آغا: ګل آغادګردیز څخه تازه ګلان راوړل.

ګرځیدل :په پښوګرځیدل صحت ته ډیره ګټه کوي.







# ل

**لاروی ـ لوړ ـ لوبیا ـ لور ـ لیمه ـ لمبه.**

**لاروی:هغه یولاروی سړی ؤ،خومانه پیژندی.**

**لوړ:لوړوګوره،ګډوه دبام پرچت پرته ده،بام لوړدی.**

**لوبیا:لوبیادوریجوسره ښه خوند کوي.**

**لور: کاکاوبابا دغنمولوپه لورکوي.لورتیره دی.**

**لیمه:لیمه دموره سره مرسته کوي،پرمورهم ګرانه ده.**







# م

**مور ـ مامور ـ موږک ـ مقرر ـ مات ـ مار.**

**مور:موردېره مهربانه وي،زه دمورسره مرسته کوم.**

**مامور:دسپوږمۍ پلارددولت يوپخوانی ماموردی.**

**موږک:پيشودموږک دښمنه ده،پيشي موږک ونيوی.**

**مقرر:مادولسم ټولګی خلاصه کړه،مامورمقررسوم.**

**مات:دسورګل دلاسه غاب ولويدی اومات سؤ.**

**مار: ماريوزهرلرونکی حيوان دی،خطرناکه دی.**








# ن

**ناڅاپه ـ ناوړه ـ ناکامه ـ نومیالی ـ نجلۍ ـ ناروغ.**

**ناڅاپه :طوطي دکفس څخه ناڅاپه ووت.والوتی.**

**ناوړه:دطوطي وتل دکفس څخه یوه ناوړه پیښه وه.**

**ناکامه: رازمحمدتیرکال سبق ونه لوستی،ناکام سؤ.**

**نومیالی : نومیالی یوډیرښه ځیرک هلک دی.**

**نجلۍ:هلک او نجلۍ دواړه باید ښوونځی ته ولاړسي. ځکه چي پردواړوعلم فرض دی.**

**ناروغ:ډیره ډوډۍ مي وخوړل،ناروغه سوم.**









# ڼ

**پاڼه ـ کاڼی ـ بڼکه ـ بڼ ـ کوڼ ـ بانجڼ .**

**پاڼه : دوني څخه یوه پاڼه پرمځکه را ولویده.**

**کاڼی : دغره کاڼی اودسیندکاڼی توپیر سره لري.**

**بڼکه: دطاؤس بڼکه ډیره ښایسته وي.**

**بڼ:زموږدکوربڼ ډیرګلان اووني لري.**

**کوڼ:کوڼ سړی په غوږو نه اوري،دی کوڼ دی.**

**بانجڼ : بانجڼ خوندوره غذاده،زمابانجڼ خوښ دي.**







**یادونه:ښوونکی باید زده کونکي ته دا ورتوضیح کي چي ڼ ډیروخت دکلمې په منځ یا اخیر کي راځي.**

# و

**واوره ـ واک ـ وروور ـ وزر ـ وچ ـ وخت .**

**واوره: دپغمان دجګوغرونوپرسرتل واوره وي.**

**واک:دهيوادواک تل دجمهوررييس سره وي.**

**وروور: زه دخپل مشروروروپرخبره غوږنيسم.**

**وزر: دوزرماتي مرغۍ سره بايد مرسته وسي.**

**وچ: لانده لرګی چي وچ شي بيا ښه اوراخلي.**

**وخت:وخت لکه سره زردوخت ارزښت بايد ولرۍ.**






# هـ

**هرات - هلمند - هوآ - هوسۍ - هوښ - هڅه .**

**هرات : دهرات ښارښکلی دی،تاریخی ځایونه لري.**

**هلمند: هلمندیوزراعتي ولایت دی،سترروودهم لري.**

**هوآ: دافغانستان هیوادبیلا،بیلي هوآوي لري.**

**هوسۍ: دافغانستان په بیلابیلوبرخوکي هوسۍ سته.**

**هوښ: ددرس په وخت کي هوښ درس ته نیسه.**

**هڅه: بریالي سړکال هڅه وکړه اوکامیابه هم سو.**









# ی

**سړی ـ سوټی ـ منګی ـ بریالی ـ زمری.**

**سړی:توریالی ښه سړی دی،پرهرچاه هم ګران دی.**

**سوټی :سوټی دلرګي څخه جوړیږي.کلک لرګی دی.**

**منګی : داوبویخ منګی په زیرخانه کي پروت دی.**

**زمری : زمری دځنګه پیاوړی اوتوانمند حیوان دی.**













# ي

**سړي ـ سپي ـ کالي ـ چابکي ـ غلامي ـ بزګري.**

**سړي:دکلي سړي ټول اوس په ګډه دويالې کارکوي.**

**سپي:سپي دشرمښ څخه رمه ساتي،داخډل سپی دی.**

**کالي:زما موردنوي کال وجشن ته کالي راجوړکړه.**

**چابکي: توريالی خپل کورنی کارپه چابکي کوي.**

**غلامي : پښتانه غلامي نه قبلوي،غلامي بده ده.**

**بزګري: خالقداداوس دبل خان سره بزګري ونيول.**











# ې

**ادې ـ شيدې ـ خورې ـ ړندې ـ راوړې ـ لرې.**

**ادې : ادې او بابا دواړه اوس پر پټي کار کوي.**

**شيدې: زما کوچنۍ خوراوس هم دمورشيدې روي.**

**خورې:که خټکی خورې هلته په خونه کي پروت دی.**

**ړندې:تورسپي دپيشي دواړي سترګي ورړندې کړې.**

**راوړې:نازوباباته پټ وويل:ماته ناوکۍ راوړې؟.**

**لرې: ته څوداني کتابچې لرې،ماته يوه کتابچه راکه.**









# ۍ

**نجلۍ ـ ګلالۍ ـ ګلدانۍ ـ بازۍ ـ ځپلۍ ـ نرۍ.**

**نجلۍ : هغه نجلۍ ډيره لايقه ده،پرښوونکی ګرانه ده.**

**ګلالۍ : هغه چي نوم ئې ګلالۍ ده زمادخاله لوورده.**

**ګلدانۍ:ګل په ګلدانۍ کي ښه ايسي،ګل مه شکوه.**

**بازۍ : هلکان اونجوني دکورومخ ته بازۍ کوي.**

**ځپلۍ : زما ځپلۍ وشکيدې،اوس نوي ځپلۍ اخلم.**

**نرۍ:سپورټ ملأ نرۍ کوي،زه سپورټ کوم .**







# دپښتو ژبي دالفبا توري

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ا | ب | پ | ت | ټ | ث | ج |
| ALIF | Bee | Pee | Thee | Tee | Cee | Jim |
| چ | ح | خ | څ | ځ | د | ډ |
| Chee | Hee | Chee | Tsee | Zei | Daal | Daal |
| ذ | ر | ړ | ز | ژ | ږ | س |
| Zaal | Ree | Dree | See | Dgee | Egee | Sien |
| ش | ښ | ص | ض | ط | ظ | ع |
| Shien | Tshin | Swat | Ghodat | Twa | Zwa | Ain |
| غ | ف | ق | ک | ګ | ل | م |
| Ghain | Fee | Qaf | Kaf | Gaf | Lam | Mim |
| ن | ڼ | و | هـ | ه | ی | ي |
| Nonn | Ndon | Waw | Hee | Hee | Je | ji |
| ئ | ې | ۍ | ء | | | |
| Jai | Jee | Jii | Hamza | | | |
| داحمدشاه | بابا | علمي | ادبي | ټولنه | . | |

**دپښتوسوچه توري اته توري دي: ټ ـ ډ ـ ړ ـ ږ ـ ښ ـ څ ـ ځ – ڼ .**

**پورته الفبأ دهغه کسانو دپاره ده؛چي په لاتيني الفبا پوهيږي خودپښتوپه حرفونويا ږغونونه پوهيږي،نو کولای سي ، چي دتلفظ دپاره دلاتينو تورو څخه هم ګټه واخلي . په**

**babacenter.nl. در ناوي ننګيالى بڅرکى**

## دښوونکي دپاره ځيني اړيني يادوني

۱ - دلومړی ټولګۍ کتاب چي دوړوماشومانو دپاره اودسوادزدکړي کسانو دپاره يوبنسټيزکتاب دی.بايد ښوونکی په ډير دقيقه توګه،دزده کونکو سره داسي ولوستل سي چي،دټولو زده کونکو دپاره ئې تر هغه اندازې تکرارکړي تر څو زده کونکي په وپوهيږي.

۲ ـ په هره جمله کښي چي هرلغات راغلی دی یاهرنوم دشيانو يادسوی دی،دهغه ډول بايد په عکسونو کي په وپيژني. او دهمدغه شي نوم بايد په يوه يا څو جملو کښي په تکرارسي.

۳ ـ يوازي هغه لغاتونه اودشيانو نومونه چي نوموړي زده کونکي دکتاب دمخي ويلي دي هغه بايد په ليکنه کښي په استعمال سي.(املأ اوانشأ) بايد دهغه زده کونکي زده وي.

۴ ـ کورنۍ کاردزده کونکي دپاره ډيرګټورتمام سوی دی. نوزده کونکی بايد هغه درسونه چي په تير کې ويلي دي، هغه په کورکښي يو يا څو ځله وليکي اودمشرانوسره ئې دخپلي مورنۍ ژبي اولهجې سره سم ووائي.تر څودمعياري ليکني اوويلوپه طريقه ئې وپوهيږي.

۵ ـ دزده کونکو دتوجو،ځيرک والي اوذهني استعداد کچه توپير سره لري.

نو ځکه بايد هر زده کونکي ته ښوونکی متوجې سي، چي ولي!نوموړی زده کونکی پام وه سبق ته نه نيسي؟ولي !درس په ډيرووېلو سره زده کوي؟. همدغسي ځيرک والی بايد دزده کونکي په پام کی ونيول سي.

۶ ـ دروان شناسۍ له مخي په زده کړه کي ترټولو مهم څه دزده کونکي، ښوونکي دواړودپاره پرابلمونه ډيرمهم دي،چي ولي زده کونکی ددرس سره علاقه نه لري؟.اوولی ښوونکی ښه افاده نه لري؟داپه پيداګوژۍ يا ښوونه اوروزنه کي مهم اړين اړخ حسابل کيږي.بايد پاملرنه ورته وسي.

۷ ـ په ليکنه کي بايد پښتواصلي توري په سمه توګه وليکل سي.



The Scientifc Literary Society Of Ahmad Shah Baba

Education Department



For first class

Nangialay Batsarki

E – Mail nbacharki@live.nl

**9 - 10 – 2003**